



**د ښاغلي پروفیسور استاد محمد بشیر دودیال د یو خوندور او تاریخي ناول، په تړاو یو څو لنډې خبرې:**

***

پوهاند استاد محمد بشیر دودیال د پښتو ژبې او ادب په رونې او شین اسمان کې هغه پوهیال، ادبپال، فرهنګپال، با احساسه، خواخوږی، د ژور فکر او عقایدو ځواکمن لیکوال، هڅاند متفکر، پیاوړی کیسه او داستان لیکونکی، تکړه څېړونکی او ژباړونکی دی، چې خپل علمي، څېړنیز، تحقیقاتي او ادبي لیکنې، ګټور،

اغېزناک او ارزښتمن نښيرونه(آثار) يې داسې انځور کړې دي، چې د هر لوستونکي او اورېدونکي په ذهن او زړه کې ښکلا او مينه راپاروي او ترينه خوند او پند اخلي. د پوهاند دوديال صاحب نښيرونه(آثار) معاصرو او راتلونکو نسلونو ته د يوې علمي، ملي، ادبي او فرهنګي زېرمې او معنوي پانګې په توګه لويه او بډايه شتمني ده. ښاغلی پوهاند دوديال صاحب زړه سواندی انسان، دروند شخصيت او د لويې حوصلې خاوند دی. له خپلو ملګرو، يارانو، دوستانو او مينه والو، له هيواد او هيوادوالو سره سپيڅلې او ژوره مينه لري.

پوهاند دوديال صاحب څو ورځې مخکې د ټېليفون په کړښو کې ماته وويل، زما يو تاريخي ناول نوی چاپ شوی دی. ما د دې ناول مبارکي ورته وړاندې کړه او ترينه مې پته واخيسته تر څو دا کتاب ژر ترلاسه کړم. د ښاغلي پوهاند دوديال صاحب دا خوندور او تاريخي ناول، چې په ډېر ښکلي ډيزاين او صحافت سره چاپ شوی دی او د **(ګوندې بيا به ښې ورځې راشي)** نومېږي، د (امازون) له لارې په پوست کې ماته راورسېدو.

کله چې ما دا کتاب ترلاسه کړ، د دې ګټور، ارزښتمن او تاريخي نښير(اثر) منځپانګه او محتويات (٤٦) برخې او (۴۳۱) مخونه لري. د کتاب په پای کې په دې تاريخي ناول کې د راغليو ځايونو او نامتو څېرو معرفي او د ليکوال ژوند ليک هم راغلی دی. دا ناول څو انځورونه هم لري. د دغې تاريخي ناول هره برخه يې خپلې ادبي او هنري ځانګړتياوې لري. ما دا ټولې برخې په ډېر غور سره وليدلې او ګڼ شمېر برخې مې په مينه او پاملرنې سره ولوستلې. نو همدا وجه وه، چې ماته

هم دا احساس پیدا شو چې زه د علم، ادب، رومانونو، ناولونو، داستانونو او کیسو د مینه وال په توګه باید یو څو ټکي پرې ولیکم.

ادبیات د یوه ملت د فکري، فرهنګي، تاریخي او ټولنیز هویت ژوندۍ هینداره ده. داستاني ادب د دې هینداري هغه مهم اړخ دی چې د انسان د ژوند پېچلتیاوې، رواني حالتونه، ټولنیز مناسبات او فکري بدلونونه د تخیل او هنري بیان له لارې انځوروي. ناول د داستاني ادب هغه بنسټیز ځېل او ژانر دی، چې د خپل ځانګړي جوړښت، تخنیک او هنري ځانګړنو له مخې د ادبي پنځونې په ډګر کې ځانګړی مقام لري.

ناول د نثري ادب یوه پراخه او ژوره بڼه ده، چې د اندو فکر د روزنې، د ټولنیز شعور د پیاوړتیا، د فرهنګي ارزښتونو د ساتنې او د انساني آزمایښتونو او تجربو د لېږد مهمه لاره ده. د ناول په پنځونه کې د لیکوال رول مهم او بنسټیز اهمیت لري.

پوهاند استاد دودیال صاحب هغه پیاوړی مسلکي او ژمن لیکوال دی، چې د انساني ژوند له بېلابېلو اړخونو او د ټولنې له عیني او رښتیني واقعیتونو سره بلد دی، د انساني طبیعت او رواني جوړښت ژوره پېژندنه او د ژبې هنري وړتیا او د تخلیقي تفکر ځواک لري. همدا وجه ده چې لوستونکي د ده له نښیرونو(آثارو) سره ژوره فکري او عاطفي مینه لري او په ډېره لېوالتیا سره یې لولي.

د پوهاند دودیال صاحب په دې تاریخي او ښکلي ناول کې څرګندېږي، چې ده انساني، ټولنیز، ملي او وطني اندو فکر، د مینې، وطن‌پالنې، ټولنیز عدالت، محرومیت، جګړې، کډوالۍ او د انساني کرامت موضوعات، د مهمو پېښو او حوادثو ځانګړي تصویرونه، د لوټمارو، تالنګرو، ظالمانو او زور واکو ناولې، تورې او

کرغیړنې څیرې، د رنځیدلو او ځوریدلو هیوادوالو فریاد، اوښکې، ویرونه، سلګۍ او زګیروي ، اتلولي او میړانه او همداسې د افغانانو په منځ کې د یو شمیر نورو زړه بوږنوونکو پیښو تصویرونه، د انساني ژوند ټولنیز واقعیتونه او تاریخي بدلونونه، ټولنیز تضادونه، کلیوالي واکمن دودونه، پښتني ارزښتونه او پیغامونه، ربښتیني او سپېڅلي انساني جذبات، احساسات او عواطف، سیاسي، انتقادي او اصلاحي تصویرونه، له جګړې ځپلي، کړیدلي او ځوریدلي هېواد او هېوادوالو سره سپېڅلې او ژوره مینه په ډېره خوږه، سلیسه ساده او روانه ژبه په ډېر ښکلي رنګ، خوند او هنري بڼکلا کې انځور کړې دي. لنډه دا، چې د استاد دودویال صاحب په دې خوندور او تاریخي ناول کې د پښتني -افغاني ژوندو ژواک له بېلابېلو ستونزو، جګړو، ټولنیزو کړاوونو او ناخوالو، تضادونو او بدلونونو سره د پیاوړې مبارزې، د سوکاله ژوند د سمون او جوړولو هیله بخښونکې او اغېزناکې لارې چارې، د ملي وحدت اوچت او سپېڅلي ارمانونه او د انساني ژوند د یوې روښانه او ځلانده راتلونکې لپاره د هلو ځلو کیسې بیانوي. د کتاب له سرلیک څخه (ګوندې بیا به ښې ورځې راشي) څرګندېږي، چې په ټولنه کې د مثبت بدلون، د سوکاله ژوند او د سولې د راتلو هیلې ژوندۍ ساتي.

زه خپل ګران او منلي دوست ښاغلي پوهاند استاد دودیال صاحب ته د دې اغېزناک، ګټور او ارزښتناک چاپ شوي ناول په تړاو مبارکي وړاندې کوم.

د پوهاند استاد دودیال صاحب قلم تل روان، ځواکمن او اوچت، اندو فکر یې تل روښانه، خیال یې تل زرغون او نوم یې د ادب او فرهنګ په غوړېدلي اسمان کې

تل ځلانده غواړم او د ده د لا نورو پنځونو او هستونو په هیله یم. ده ته د اوږد، سوکاله او له روغتیا، خوښیو او بریاوو ډک ژوند غواړم.

**په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود**